شمس الزّمان شمسؔ ختک



سپرلے به راشي د ګلونه به چمن کښې اوشي
خو ستا په شان ښائسته د للمي ګل به نه وي

# د للمي ګل

شمس الزمان شمس ختک

# د مينې او وفا شاعر

زۀ عموماً د خپلې کم علمۍ په وجه مقدمه ليکلو ته غاړه نۀ نيسم له دې نه مخکښې چې هر چا راته د مقدمې يا ديباچې يا سريزې يکلو خواست کړے دے اول خو ما بې شميره معذرتونه پيش کړي دي او کۀ په ليکلو مجبور شوے يم - نو بيا مې تعارف ليکلے دے هغه هم شعري نه - شخصي - داسې د نقاد جوړيدلو نه ايله کارے پچ شوے يم خو دا ځل يو داسې شاعر راحصار کړے يم چې پوليس کپتان هم دے او په ما کښې دومره جرأت نشته چې د يو پوليس کپتان حکم عدولي اوکړم نو ځکه دا ځل په تش شخصي يا سوانحي تعارف ځان نۀ شم خلاصولے - د شعرونو جاج به اوس مرو آخلم - خدائے دې اوکړي چې په تول پارسنګ کښې را نه سپک شعرونه درانۀ او درانۀ شعرونه سپک نۀ شي - او دې ادبي بې انصافۍ حوالات ته ونۀ رسولے شم - کلام د شمس الزمان شمس دے - دا هم هغه شاعر دے چې ورمبے ئې تاسو ته په دالۍ کښې خپلې "او بنکې او سلګۍ" پيش کړې وې او اوس "د للمې ګل" درانډې کوي - په کوهاټ کښې خو سې خو شارې نجرې او للمې ديو سرنه واخله تر بل سره پورې



www.pukhto.net

خوږې دي. خو د ختکو سیمه خصوصاً په للمو اباده ده. شمس هم د ختکو د سیمې شاعر دے ځکه هغه په خپل دوېم شعري امېل کښې رمبېل چمبېل یا ګلاب او نرګس نهٔ دي پېژندلي او د للمې زېړ ګلونه ئې پېژندلي دي.

د شمس د کلام جائزه اخستو نه مخکښې د دې عجز اظهار ضروري ګڼم چې کهٔ سوال د ریاضۍ وے حل کول به ئې آسان وو. مینه وفا د شمس الزمان ختک خو مسئله د شاعرۍ ده. او د شاعرۍ سوالونه څوک د ریاضي د سوالونو په شان نهٔ شي حل کولے. جمع. تفریق. ضرب. تقسیم د لته هم وي خو حل کول ته ئې یو څو هندسې نه. د توږو د فترونه پکار بېږي. زهٔ هر لحاظ سره دَ خدائے یو عاجز بنده یم د د فترونو څښتن نه یم. ځکه نهٔ پوهېږم چې دا سوال څنګه حل کړم. او کهٔ د خپلې خوښې مطابق ئې حل کړم زما زیار سره به زما او د شمس لوستونکي اتفاق او کړي که نه؟

بنه به دا وي چې وړمبے د شمس د کلام درجه بندي وشي. غزلونه. قطعې. نظمونه او عوامي سندرې د شمس د شاعرۍ ترتیبي اجزاء دي او په هم دغه ترتیب پرې بحث هم پکار دے. خو زما زړهٔ غواړي چې له دغه ترتیب نه بغاوت وکړم او وړمبے د شمس د نظمونو جاج واخلم ځکه چې د شمس په شاعرۍ هغه مقام هم دغه دے چې د سماجي شعور ننبې نښانې په کښې موندے شي. ګني نوره ټوله شاعري خو هغه د خپل ځان د پاره کړې ده د شمس د ځان ځانې تشریح به ورستو کوم.


www.pukhto.net

وړ مې به د هغه د سماجي شعور په حقله یو څو خبرې وکړم. دلته دا وضاحت ضروري گڼم چې د شمس کلام د سیاست نه بېخي پاک دے او که یو څو نظمونو کښې د سماجي شعور اوړکي نه وے نو ټوله شاعري یې د دوو کسانو په مینځ کښې د ابلاغ ذریعه وے او د دریم سامع درک په کښې بېخي نه لگېدلے. بلکه په ډېرو ځایونو کښې به هغه دریم سامع هم له مینځه وړے وے چې په شمس ډېر گران دے او شمس یې د شاعرۍ په رنگ اخته کړے دے.

د شمس په کومو نظمونو چې د نورو نظمونو، غزلونو، قطعو او سندرونه مختلف کښې تبصره کول غواړم هغه د ناصحانه او اخلاقي شاعرۍ په ذېل کښې نه راځي او که راځي نو صرف تر دې حده پورې چې د دغو نظمونو په ذریعې شمس د خپلو لوستونکو توجه د یو خاص نقطه نظر طرف ته راگرځول غواړي کني په دغه نظمونو کښې د اخلاقي هدایتونو تکرار نشته دے. دا هغه نظمونه دي چې شمس په کښې یو سیاسي یا سماجي سپین ږعبے یا مصلح نه ښکاري بلکه یو داسې سرجن معلومېږي چې د زخمونو څېرل د مریض د ژوند د پاره کوي.

د شاعرۍ وړ مېبے منصب لوستونکو ته خندا او خوشحالي رسول دي. شمس نه صرف په هغو یو څو نظمونو کښې چې ذکر یې ورستو راځي بلکه په خپلې ټولې شاعرۍ کښې دا منصب د نظر نه وړاندې ساتلے دے.


www.pukhto.net

دلته نه یو بل بحث شروع کېږي یا زهٔ يې شروع کول غواړم. ځنې شاعران چې تجریدي فن پارې تخلیق کړي او په دغه فن پاروکښې د علامتونو نه کار واخلي نو سمدستي ورپسې په دې فکر کښې مبتلا شي چې خدائے خبر په دغو فن پارو به څوک پو ے شوے وي که نه ؟ د شمس په ټوله شاعرۍ کښې داسې یو شعر څهٔ چې یو توره هم نشته چې پوهېدل پرې ګران وي. هغه په خپلو نظمونو۔ غزلونو۔ قطعو او سندرو کښې عام فهم مضمونو نه ترلي دي او ډېره ساده ژبه يې استعمال کړې ده۔ او په شعوري ډول يې له هغې لهجې نه ګرېز کړے دے چې په نثمبر کښې مروجه ده۔

د شمس دوېم کمال دا دے چې په نظمونو کښې د هغه انداز د خطابت انداز نهٔ دے. د هغه په دې دوېمه شعري مجموعه کښې داسې یو نظم هم نشته چې څوک پرې دا ګمان اوکړي چې دا نظم شاعر په یو لوی جلسه کښې د اورونو د پاره لیکلے دے. شمس په خپلې شاعرۍ کښې خپل ځان او خپل جانان ته مخاطب دے یا هغو کسانو ته چې د زړهٔ سترګې لري. چونکه بینا سترګې زمونږ په معاشره کښې ډېرې کمې دي ځکه شمس په هغو نظمونو کښې هم ډېرو کمو کسانو ته مخاطب دے چې د خپل ځان او د جانان د پاره يې نهٔ دي لیکلي.

د شمس هغه ډېر مېے نظم چې ژور سماجي شعور لري "د ګلونو غوټۍ" دے په دغه نظم کښې ډېرې کچه غوټۍ



www.pukhto.net

د دولتونو په صلیبونو ختلي ښکاري او شمس ئې په صلاح شه
پوهېږي نحو په دې وپنا ترې نه ځان خلاصوي چې!

دغه څه نوې قیصه نه ده داسې تل شوي دي
د انسانانو خرڅېدل او خرڅول شوي دي

یا به د نظم په آخري شعر کښې د تېښتې لار لټوي او وائي چې

ـه دولت هم هغه دے که ته پرې یو جمات جوړوې
که پرې انسان اخلې او خلقو ته پسات جوړوې

د دغه آخري شعر په دوېمه مصرعه کښې د "فساد" په ځائے د "پسات" روزمره د ضرورت شعري لاندې راغلے دے۔

"د ګلونو غوټۍ" او "زخمونه" د نفس مضمون د کبله یو بل سره تړلي معلومېږي "په زخمونه" کښې هم پاره پاره ګلونه دي۔ زخمي زخمي روحونه دي غرغرې او صلیبونه دي او په معاشرې باندې ټپکونه دي۔

د دوي ایمان د دوئ ضمیر او د دوئ زړه دولت دے
د دوئ رشتې د دوئ جذبې د دوئ هر څه دولت دے دغه
دولت چې مدام وېشي د هر څه زخمونه

دغه دولت چې مدام وېشي د هر څه زخمونه
بیا مې تازه شول په زړګي باندې زاړه زخمونه

دا ټول صلیبونه بې درده معاشرې ورولي دي د دولت د بې ځایه تقسیم او استعمال معاشرې کړے دے او د معاشرې دغه بې انصافي


www.pukhto.net

شمس دومره ښه اکړے دے چې له ښځه سرې توب نه مایوس معلومېږي
ځکه خو ئې په یو بل نظم "زړګیه" کښې دا ژړا کړې ده چې!

ښځه درته پته ده چې خلق مطلبونه کوي
د خپل مطلب د پاره رنګ په رنګ کارونه کوي
خاندي ژاړي ښي قسما قسم فریبونه کوي
خپلو څهرو باندې نقشونه نګارونه کوي
زړه کښې ئې کرکه وي په شونډو سلامونه کوي
د عقل فکره ډېر لرې حرکتونه کوي

په تجربو کښې د ژوندون سل کلنه دې کړمه
زما زړګیه لیونیه! لېونے دې کړمه

زمونږ معاشره څه چې هره انساني معاشره د اضدادو مجموعه وي او په څلور کنجه دنیا کښې د نیکئ او بدئ قوتونه یو بل سره منګولې لګوي. چرته نیکي غالبه شي چرته بدي. خو د انساني معاشرې زیاته برخه د بدئ د تسلط لاندې نه ده. د بدئ په دغه تودم اول خوځوک پردو غمونو ته روزګار نه دي او که د شمس په شان خال خال کسان ورته ځان روزګار کړي نو د پردو غمونو د خوږو تجربه ئې دې نتیجې ته ورسوي چې!

ځکه مې دا فیصله اوکړه د فکرونو نه پس
چې په خیالي جنت کښې بس دے اوسېدل نه کوم

www.pukhto.net

بنهٔ راته ښته ده چې سينه په دنياکښې نشته
هسې بې ځايه به د بوسن بادول نهٔ کوم
بس دغه دېره ده چې ژوندون ئې پسې خاورې کړلو
نور په عنقا پسې ځنګل کښې ګرځېدل نهٔ کوم
اوس به د ځان د پاره ګل واړه کاروونه کوم
آخر تر کومې به د خلقو زهٔ غمونه کوم

زمونږ د وطن ښکلا د تعارف محتاجه نهٔ ده - د کراچۍ په شان آبادې صحرائي او سمندري علاقې د لاهور ملتان او پېښور په شان تاريخي ښارونه د سوات ايبټ آباد - کاغان - کافرستان او مري په شان ښائسته غريزې علاقې او د اسلام آباد په شان نوي او زړهٔ راښکونکي آبادۍ په کښې ډېرې دي او عموماً په اوړي کښې د مالدارې طبقې عيش پرستان غريزې علاقو ته د عيش او آرام د پاره ځي او د غريزو علاقو خپل خوار او سپېڅلي د مالدارې طبقې خدمتونه کوي هم دغه معاشي او معاشرتي تفاوت شمس د "غريزه پېغله" په ښکلو لمسولے دے او هغه د مالدارې او غريبې طبقې منځنې فاصله ئې داسې پکې کړې ده چې!

په هر يو غر کښې شمس! دغه سلسله ليدهٔ شي
په يو قدم کښې د عمرونو فاصله ليدهٔ شي

"د نرس" د دې مجموعې يو بل ښکلے نظم دے په دغه نظم کښې د شمس مشاهده دومره ژوره ده چې نه صرف د نرس د پېشې



www.pukhto.net

تقدس ئې ښکاره کړے دے بلکه د نرس د مجبورۍ صحيح نقشه ئې هم را ښکلې ده -

هسې اوده مې ورته اووے کنې څه اوده ده
په کوسه ناسته ده په ناستې لکه نه اوده ده
لکه هوسۍ په مېګتون باندې د غره اوده ده
څنګل په مټ - مخ په څنګل خوارهٔ ويښتهٔ اوده ده
دا يوه نښه د انسان د مجبورۍ اوده ده
غريبه نرسه ستړې شوې په ډيوټۍ اوده ده

او په دغه آخرې بند کښې د نرس د پېشې تقدس څومره ښند، او د هغې خپل ژوند څومره تت دے - - دا فيصله دې لوستونکي په خپله وکړي -

شمسَ مريض سره يوه شپه چې ځوان تېره کړي
څومره بې سره وي چې دا سخته په ځان تېره کړي
هر يو مريض سره په چې او په قربان تېره کړي
په سپين سحر کښې ګل اندامه ښاپېرۍ اوده ده
ماشومه نرسه په آخر کښې د ډيوټۍ اوده ده

" د اسرار سحره" يو ذاتي نظم او کوډنے نظم دے او په دې مجموعې کښې شايد ځکه شامل کړے شوے دے چې د سماجي شعور نخري لري - - د شمسَ ايکې يو زوے دے او د هغه د مستقبل په حقله شمسَ دا ارمان لري چې !


www.pukhto.net

ارمان لرم چې ده کښې خوږي د خوشحال خان واچوم
د لوے ختیک ورکښې جذبې او هم ایمان واچوم

په "فنکاره" کښې د شمس جائزه یو اړخیزه ده - په دغه نظم کښې هغه داخو ښیئلي دي چې د دې په وجود باندې د روپو نشه خوره وي خو د دې د خرید ارانو یعنې د رنډي بازانو تجزیه ئې نه ده کړې ځکه دا نظم نامکمل غوندې ښکاره شي -
د شمس په شاعرۍ کښې د سماجي شعور او رادرکي ځائے په ځائے ځلیږي خوزه دا قیصه اوږدوم نه ځکه چې زه اوس د شمس د کلام هغې برخې ته ورنږدې شوے یم چې شمس په کښې خپل ځان ته او خپل جانان ته مخاطب دے او دا برخه له هغې برخې نه زیاته ده چې د سماجي شعور بڼې لري - زما خپل خیال دادے چې شمس یو ښه غزل گو شاعر دے او ښه به دا وي چې هغه خپل ټول صلاحیتونه د خپل ذات اظهار ته وقف کړي او دا منلے شوې خبره ده چې د خپل ذات اظهار په غزل کښې آسان وي خپل ټول صلاحیتونه غزل ته وقف کول د شمس د پاره په دې وجه هم ښه وي چې په نظم کښې هغه دومره اوچت نه ښکاري څومره چې په غزل کښې ښکاري -
دتېرو یو څو کالو په دوران کښې د شاعرۍ د عالمانو په حلقې کښې نه سهي - د شاعرۍ د اورېدونکو په حلقې کښې د شمس مقبولیت ډېر زیات شوے دے - خو په شاعرۍ کښې دا خبره دومره زیات اهمیت نه لري چې د یو شاعر اورېدونکي په تعداد کښې


www.pukhto.net

کم دي کهٔ زیات دي - څو موره اهمیت چي دا خبره لري چي د یو شاعر ډیر ډیر لوستونکي دي په هر نسل او هرې زمانې کښې وي

په دې ځائے زهٔ د یوې بلې نقطې تشریح هم ضروري گنړم او هغه نقطه داده چي کله نا کله داسې هم وشي چي یو شاعر ډیرې تیزۍ سره د اوریدونکو یو لوئے تعداد پیدا کړي خو دا په شاعرۍ کښې څهٔ صحت مند علامت نهٔ دے. بلکه ددې مطلب دادے چي شاعر سره څهٔ نوے خیال نشته او هغه خپلو اوریدونکو ته هم هغه څهٔ وړاندې کوي په کوم چي هغوي آموخته دي - دا عیب د شمس په غزلونو - نظمونو او سندرو کښې شته دے نو ځکه مونږ دا وئیلے شو چي د هغه مقبولیت عارضي دے.

ما ځائے په ځائے دا تکرار کړے دے چي د شمس د شاعرۍ زیاته برخه د ځان او د جانان د پاره ده - دد غه تکرار نه زما مقصد دا ثابتول دي چي عموماً د مینې او محبت شاعري صرف د دوه کسانو په مینځ کښې د ابلاغ ذریعه وي او په هغې کښې د دریم سامع د پاره هیڅ گنجائش نهٔ وي - د خپلې دې رائې په تائید کښې به زهٔ د شمس څنې شعرونه لوستونکو ته وړاندې کوم خو اوس نه - ځکه چي ورمبے زهٔ د شمس د شاعرۍ یو بیل اړخ جوتل غواړم او هغه د شمس د کلام موسیقیت او غنائیت دے - البته دلته دا بحث هم ضروري دے چي آیا د هر قسم شاعري څوک په ساز آواز کښې تړلے شي ؟ په دې لړ

www.pukhto.net

کښې د شاعرۍ د نقادانو اجتماعي رائې داده چې هر نظم په ساز او آواز کښې د ترنم د پاره نۀ وي او محض په دې د یو ښۀ نظم اهمیت کمېږي نه چې هغه د ټنګ ټکورو د پاره نۀ دے بنیادي خبره داده چې په عالمي ادب کښې د ټنګ ټکور شاعري کمه ده او هغه شاعري زیاته ده چې صرف د اوردو او دَ اورېدلو د پاره وي - د شمس په کلام کښې عیب دا دے چې د هغه د شاعرۍ اکثره حِصه دَ ساز محتاجه ده - او په موجوده دور کښې هم د غه عیب د شمس د شاعرۍ صنت ګرځولے شوے دے ځکه چې د شاعرۍ موسیقي یوه داسې موسیقي ده چې د خپلې زمانې په عامو خبرو اترو کښې مضمره وي - او دا خبرې اترې که نوره ځئ نۀ شي کولے هغه مقام هغه ځائے او هغه زمانه خو ټاکلے شي چې شاعر په کښې ژوند تېر وي -

زما خیال دے چې د شمس د شاعرۍ په سیاق سباق ښۀ بحث وشو او اوس زۀ هغه مقام ته را ورسېدم چې د شمس د خان ځاني جائزه واخلم او خپل فرض نه سبکدوش شم - زما په نظر کښې شمس د مینې او وفا شاعر دے په دې معنو کښې نه چې هغه مینن دے او وفادار دے بلکه په دې معنو کښې چې هغه په خپل کلام کښې له ورمبي شعر نه واخله تر آخري شعره پورې د مینې او وفا په طلب کښې سرګردان ښکاري اَن تر دې چې په دموکښې هم وفا لټوي - حالانکه وفا نۀ په دموکښې وي نۀ د دمو په خریدارانو کښې - د دې او د خریدار



www.pukhto.net

تعلق د دوکاندار او د ګاهک تعلق دے نو شمس د نورو میدانونو په شان په دغه میدان کښې هم هغه مینه لټوي چې لباسي نه وي او هغه وفا لټوي چې عنقا ده -

مینه هر سړے کوي خواه که هغه شاعر وي که نه وي وفا هر سړے غواړي ، خواه که هغه په خپله وفادار وي که نه وي خو د شاعر امتیاز دا دے چې هغه د خپلو خواهشاتو اظهار په شعرونو کښې کولے شي او دا سې ئې کولے شي چې هغه خپله هم د مینې محبت مجسمه معلومیږي حالانکه هر غوز چغزے نه وي - ډېر غوزان متاک هم وي - زه دا بحث نه چېړم چې شمس په خپله چغزے غوز دے که متاک دے او ځکه ئې نه چېړم چې ماته هېڅ پته نشته چې هغه شمس څنګه دے چې د شمس په منځ کښې اوسي - زه خو به په هر حال کښې د شمس ظاهر ته ګورم - د شمس کلام زما په نظر مخکښې پروت دے او دا هغه آئینه ده چې د شمس ظاهري کړه وړه څرګندوي اوس که دا آئینه بې رویا او بې ریا نه وي او د دې په رڼا کښې زه د شمس باطن څرګندونه کړے شم - نو قصوروار به زه نه یم -

د مینې او وفا په حقله د شمس اجتماعي رائې په لاندې شعر کښې ظاهر یږي -

؎

حسن وفا سره تکمیل ته رسي
لکه رڼا چې د سحر سره وي



www.pukhto.net

نو د شمس د غه خیال سره د هرڅه اتفاق ضروري نهٔ دے ځکه چې
په شاعرۍ کښې تغافل - جفا - غرور، کښېنځ مکېږ او بې التفاقه
حُسن سره داسې پېوست دي چې بېلول ئې ناممکن دي بهرحال
دا خبره مونږ نظر انداز کولے نهٔ شو چې د شمس په نظر کښې
حسن او وفا لازم و ملزوم دي - دا بېله خبره ده چې د غه
حُسن د ښځې نهٔ دے د کردار دے -

وفا په خپله هم یو حسن دے زار بېره تر بنه
د بې وفاؤ په ښائسته ښځو دې اور اولګي

د شمس په شاعرۍ کښې د وفا رنګونه داسې ډېر دي لکه په
چمن کښې د ګلونو ښائسته ورے وي او په آسمان د بودې تال
خورې وي یو څو مثالونه د لته پېش کوم چې لوستونکي هم
پرې خپل ذهنونه ښائسته کړي -

---

یو شمس دے د وفا په زړهٔ لاره بانده درومي
زره کړي نور و خلقو دي چالونه نوي نوي

---

او بنکې او سلګۍ مې په خندا بدلې شوې
داستا بې وفائي چې په وفا بدلې شوې

---

اے شمس په وفا چې ملنګ شومه دیاد
دستر ګو کچکولونه ګرځوم کلي په کلي



www.pukhto.net

خلق مې جانان ته لباسي روبې وفا وائې
نخښې د وفا ئې ما په سترګو کښې لید لې دي

د وفا په لاره تلل څهٔ آسان نهٔ دي
ځان په بل قربانول څهٔ آسان نهٔ دي

---

شمس، ولې په هر چا باندې نازېږې
خطا نهٔ شي په هيڅ کښې وفا نشته

---

هغه ياران هغه وختونه څهٔ شول
د وفا ښکلي مثالونه څهٔ شول

جانانه مينه دې پسکه پسکه ده
ستا د وفا هغه رنګونه څهٔ شول

چې په هيڅ کښې وفا پاتې نهٔ شوه
مينه په زړهٔ کښې زما پاتې نهٔ شوه

يقين کوم يقين مې نهٔ کېږي پرې
ګلي خوګې د وفا وعده ده

---

هر حسين کښې د وفا خويونه نهٔ وي
په ښائسته دُکان کښې ښهٔ څيزونه نهٔ وي

چې د ښکلو نه د مينې سوال کوې
سکه ګل چې په ازغو کښې نال کوې

www.pukhto.net

د شمس په کلام کښې د وفا ګلد سته هـله تکمیل ته رسي چې د مینې
نال هم په کښې وکړے شي د مینې په باب کښې د شمس د کلام
رنګا رنګ ګلونه دادي -

زړګے دې روغ دے څکه نهٔ پوهېږې
په درد دخوږ زړهٔ خاوندان پوهېږي
شمس! غزل کښې دې چرکوم اثر دے
په دې د مینې لیونیان پوهېږي

---

چې په کښې ذکر د جانان دخوږې مینې نهٔ وي
شمس! د شعر په هغو مصرعو دې اوراولګي

---

د مینې په مذهب کښې د غه تخته د ایمان ده
تخفې به تل کښې د یار غمونه نوي نوي

---

شمس په مینه کښې دې عمر تېر کړو
ستا شاعري د رنګینو دکه ده

---

څو مره چې دېر وي پرې خوشحال یمه
ستا د غمونو په ما زور بنهٔ دے

---

د مینې یار چې په کښې نهٔ وي شمس
بیا را نه پاتې کلے کوهٔ بنهٔ دے



www.pukhto.net

شمسؔ په مینه کښې دې سوزم خبر دے
علاج د اور سوي په اور کښ یږي

یو ځل په مینه مینه راته وخانده له ورایه
بیا خبر دے کهٔ په ما بانډې غمونه راوریږي
زړهٔ زما سورے وُخو په شونډو مې خندل کله
مینه کښې ژړا هسې ځکه غونډې خبرهٔ ده

تر څو چې ستا د مینې یار نهٔ شم
زهٔ به ژوندو خلقو کښې شمار نهٔ شم

په لباسي مینه دې اور اولګي
یو ځل چې مړ شي بیا دې نور اولګي
شمسؔ چې ذکر د جانان وي په کښې
هره مصرعه په زړهٔ تهکور اولګي

د غزل په حقله مختلفې نظریې دي څوک وائي چې د غزل په شعرونو کښې عموماً د ښځو سره خبرې کولے شي ـ هغه ښځو سره نه چې خوښنډې ـ مینډې او لونړه وي بلکه هغه ښځو سره چې نکاح ورسره جائز وي څوک وائي چې د غزال تورے د غزل نه وتے دے ـ هر کله چې یو غزال په ځنګل کښې په مستۍ کښې راشي او اخوا دیخوا توپانکې وهي نو دغو توپاکوته غزل وئیلے شي ـ ځنې خلق وائي چې هر


www.pukhto.net

کله چې يو ښکاري په ځنګل کښې يو غزال د ښخښې منځ کړي هغه په غشي اوولي نو بيا په دې موقع چې د غزال د خُلې نه کومه دردناکه کړيکه وځي هغې کړيکې ته غزل وائي. معلوميږي چې شمس الزمان شمس د مينې په ځنګل کښې غشي خوړلے دے ځکه خو دا رنګې کړيکې کوي چې!

زړه مې ډوبيږي نه پوهيږم ولې
شپه نه تيريږي نه پوهيږم ولې
څومره چې اوښکې مې زياتيږي آشنا
زړه دې سختيږي نه پوهيږم ولې

---

د عشق دنيا حادثو ډکه ده
د ګلو ښائسته د ازغو ډکه ده

---

ما چې به کتلو تا ته ته به شرميدې
تا چې نه کتلو ما ته ته به شرميدې
زه چې به در تلم کله ستا د کوره په لاره
زر به شوې د ورنه شا ته ته به شرميدې

---

ګوره د سپرلي ګلونو او خندل
ته چې غلے غلے په خندا شوې



www.pukhto.net

یار چې نن د تا سره په ټنګ کښې دے
شمس اوس مزې کوه باچا شوې

---

تا به د خلقو نه زړه څه پټوم
ته خو زما په هر غزل کښې اوسې

---

نن بیا دې تازه شوې دي په زړه باندې زخمونه
اے شمس چې په تا باندې شعرونه راورېږي

---

چې شمس کولو ذکر یاره ستا د خد و خال
ښائسته غوندې غزل تر ښه پخپله جوړېږو

---

زه په ښائسته وُ پسې ځکه ګرځم
چې په ښائست زما غزل ښائسته شي

---

رنګ دې ښه دے رے د ګل په شانې یاره
دا سې خوې چې دې لرله ښه به وے

---

نن چې آشنا را سره بیا نوې لوظونه اوکړل
د زړګي څانګې مې تازه ګلونه اوکړل

---



www.pukhto.net

شمس په غزل کښې درد ترڅې پیدا کړي نه
څو پورې چې زړهٔ دې د زخمونو نه چور چور نهٔ وي

---

تهٔ خو بیا لاړې هیڅ پروا دې په ما رونګ له
زهٔ چې راستلم په تمه لاړه مې بیا شاته کتل

---

ستا په دیدن مې زړهٔ تازه شي
لکه باران چې په شرشم وربښي

---

سپرلے به راشي د ګلونو به چمن کښې اوشي
خو ستا په شان ښائسته د للمې ګل به نهٔ وي

---

د تنقید دوه اړخونه دي معائب تنقید او محاسن تنقید - زما خیال دے چې ما دغه دواړه اړخونه پیش کړي دي او د تبصرې پوره پوره نه سهي څهٔ لږ ډېر حق مې ادا کړے دے - اوس زهٔ له منځه لرې کېږم او د شمس کلام لوستونکو ته یې د وېنا وړاندې کوم چې زما هر خیال سره د هر لوستونکي اتفاق ضروري نهٔ دے -

خاورې ایوب صابر

کوهاټ - ۱۸ مارچ ۱۹۷۹ء



www.pukhto.net

شمس په غزل کښې درد ترهغې پېدا کېږي نه
څو پورې چې زړهٔ دې د زخمونو نه چو چو نهٔ وي

---

تهٔ خو بيا لاړې هيڅ پروا دې په ما ونکړله
زهٔ چې راستلم په تولو لاره مې بيا شاته کتل

---

ستا په ديدن مې زړهٔ تازه شي
لکه باران چې په شرشم وربږي

---

سپرلے به راشي د پرګلونو به چمن کښې اوشي
خو ستا په شانې ښائسته د للمي ګل به نهٔ وي

---

د تنقيد دوه اړخونه دي معائب تنقيد او محاسن تنقيد - زما خيال دے چې ما دغه دواړه اړخونه پېش کړي دي او د تبصرې پوره پوره نه سهي څهٔ لږ د پرحق مې ادا کړے دے - اوس زهٔ له مننځه لړې کېږم او د شمس کلام لوستونکو ته يې د بې وېنا وړاندې کوم چې زما هر خيال سره د هر لوستونکي اتفاق ضروري نهٔ دے -

خاورې ايوب صابر

کوهاټ - ۱۸ مارچ ۱۹۷۹ء



www.pukhto.net

# خپلې خبرې

د "اوښکې او سلګۍ" نه پس د "ګلمې ګل" ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم که ماکولے نو د پرو خلقو نه مې په دې کتاب تعریفي خبرې لیکلے شوې خو زما خواهش وُچې په خپله شاعرۍ باندې صرف تعریف نه بلکه تنقیدي خبرې لوستونکو ته وړاندې کړم او داسې تنقیدي خبرې د پاره ماته ښاغلے ایوب صابرؔ ډېر موزون ښکاره شو- زهٔ د دوی منڼه کوم چې زما په شاعرۍ ئې د خپلو خیالاتو اظهار اوکړو-

زما د شاعرۍ یا په شاعرۍ کښې د څهٔ خاص مقام دعوی چرې هم نهٔ ده کړې - یو زړهٔ لرم یو جذبه لرم او د خپل زړهٔ د جذباتو اظهار کوم- بنیادي طور زهٔ د مینې قائل یم او دا مې عقیده ده چې مینه هغه ازلي او ابدي حقیقت دے چې په هر دور کښې ورته خلق عارضي عوامي او ذاتي موضوع وائي - خود بابا آدم نه تر دې دمه هم دغه یو واحد موضوع ده چې نهٔ زړېږي- نهٔ ختمېږي او نهٔ ند کېږي ، د هر دور د هر زمان هر ملک هرې ژبې په ادب کښې دا موضوع یو مرکزي موضوع ده بلکې هم وه او اوس هم دے او بیا به هم وي نورې د برې فلسفې راغلې د څهٔ



www.pukhto.net

# خپلې خبرې

د "اوښکې او سلګۍ" نه پس د "ګلونو ګل" ستاسو په خدمت کښې وړاندې کوم کۀ ماکولے نو ډېرو خلقو نه مې په دې کتاب تعريفي خبرې ليکلے شوې خو زما خواهش دٙې چې په خپله شاعرۍ باندې صرف تعريف نه بلکه ږې ږوياږې ږيا خبرې لوستونکو ته وړاندې کړم او داسې ږې رويابږې ږيا خبرې د پاره ماته ښاغلے ايوب صابرٓ ډېر موزون ښکاره شو- زۀ د دوي مننه کوم چې زما په شاعرۍ ئې د خپلو خيالاتو اظهار اوکړو -

ما د شاعرۍ يا په شاعرۍ کښې د ځٙان خاص مقام دعوي چرې هم نۀ ده کړې - يو زړۀ لرم يوجذبه لرم او د خپل زړۀ د جذباتو اظهار کوم - بنيادي طور زۀ د مينې قائل يم او دا مې عقيده ده چې مينه هغه ازلي او ابدي حقيقت دے چې په هر دور کښې ورته خلق عارضي عوامي او ذاتي موضوع وائي - خود بابا آدم نه تر دې دمه هم دغه يو واحد موضوع ده چې نۀ زړېږي - نۀ ختمېږي او نۀ ذد کيږي ، د هر دور د هر زمان هر ملک هرې ژبې په ادب کښې دا موضوع يو مرکزي موضوع ده پخوا هم وه اوس هم دے او بيا به هم وي نورې ډېرې فلسفې راغلې د ځٙه



www.pukhto.net

رنځ د پاره مقبولې شوې او بیا هېرې شوې - خو مینه ازلي
ده ابدي ده او همه ګیره ده او ددې وجه غالباً دا ده چې
مینه واحد موضوع ده چې د تمامې دنیا ترمینځه مشترک موضوع
دے نورې ټولې نظریې او فلسفې د یو خاص وخت یا
دلې یا ملک سره تړون لري - خو مینه د هر څه نه بالا ده
براه راست د انسان د زړه سره تعلق لري - ورپسې د مینې بیا
مختلف مقامات دي - په دې کښې حسن راځي - وفا راځي - هجر راځي ،
وصال راځي خو دا ئې ټول ګلونه دي چې د مینې په بوټي کښې
غوړیدلي دي -

زه د ایوب صابر صیب یو ځل بیا مننه کوم چې زما په دې خیالاتو او
جذباتو ئې خپل ناقدانه نظر واچولو ورسره زه د پښتونخواه د هغه
ټولو قدردانو هم مننه کوم چې زما شعرونه خوښوي او د قدر په
سترګو ورته ګوري او د خلقو د قدر افزائي ما د پاره د ټولو نه لویه
تمغه ده ځکه چې عام خلق هغه څیز خوښوي چې ښه ورپې لګي - خدائے
دې اوکړي چې زما د مینې د اظهار دا دویمه نخښه هم د خلقو په دربار کښې
د خوښې سند حاصل کړي زه دا خپلې خبرې د حمزه صیب په دې
شعر ختم کوم -

چې دنیا د آب و ګل ته انسان راغے
مینه راغله څنګه راغله طوفان راغے

شمس الزمان شمس خټک

پېښور
۲۴، اپریل ۱۹۷۹ء

زخت د پاره مقبولې شوې او بيا هېرې شوې - خو مينه ازلي
ده ابدي ده او همېشه ده او دې وجه غالباً دا ده چې
مينه واحد موضوع ده چې د تمامې دنيا ترمنځه مشترک موضوع
ده نورې ټولې نظريې او فلسفې د يو خاص وخت يا
د يو ملک سره تړون لري - خو مينه د هر څه نه بالا ده
براه راست د انسان د زړه سره تعلق لري - ورپسې د مينې بيا
مختلف مقامات دي - په دې کښې حسن راځي - وفا راځي - هجر راځي ،
وصال راځي خو دا ټول ګلونه دي چې د مينې په بوټي کښې
غوړيدلي دي -

زه د ايوب صابر صيب يو ځل بيا منندوی يم چې زما په دې خيالاتو او
جذباتو ئې خپل ناقدانه نظر واچولو ورسره زه د پښتو نخواه د هغه
ټولو قدردانو هم منندوی يم چې زما شعرونه خوښوي او د قدر په
سترګو ورته ګوري او د خلقو د قدر افزائي ما د پاره د ټولو نه لويه
تمغه ده ځکه چې عام خلق هغه څيز خوښوي چې ښه پرې لګي - خدا دې
دې اوکړي چې زما د مينې د اظهار د دې غه ښه هم د خلقو په دربار کښې
د خوښې سند حاصل کړي زه دا خپلې خبرې د حمزه صيب په دې
شعر ختم کوم -

چې دنيا د آب و ګل ته انسان راغې
مينه راغله ځنګه راغله طوفان راغې

شمس الزمان شمس خټک

پېښور
۲۴، اپريل ۱۹۷۹ء



www.pukhto.net

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# حمد شریف

اول نوم دهغه رب مې په ژبان دے
چې په ما باندې ېې حده مهربان دے

د کرم حساب ئې نشته بې حساب دے
لوئے صفت ئې د رحیم او د رحمان دے

د ثنا لائق بې شکه چې هغه دے
مخاطب مې د فریاد او د فغان دے



www.pukhto.net

بې دده نه بل طاقت منلے نهٔ شم
یو حاکم د حاکمانو عالیشان دے

شمس چرې به بدرنګ په جهان نهٔ شي
په رښتیا چې څوک بنده دخپل سبحان دے

# نعت شریف

قربان د مرسلانو د سرداره شمه زهٔ
قربان ئې د نامې نه په سل واره شمه زهٔ

قربان د کل عرب نه د نبيؐ په ښکلي مخ
قربان ئې د ریګونو د کوهساره شمه زهٔ


www.pukhto.net

قربان شم د مکې نه چې ځې دے دے زیږ ولے
قربان د دغه ښې مثاله ښاره شمه زهٔ

قربان زهٔ د یثرب د هیوکانیې بوټې شم
قربان ئې د روضې نه په څو واره شمه زهٔ

اے شمسَ څو مره ښکلې مرتبه ده د رسولؐ
قربان د دواړه کونو د سردار ه شمه زهٔ



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

بها د حُسن د نظر سره وي
د زرو قدر د زرگر سره وي

حُسن وفا سره تکمیل ته رسي
لکه رڼا چې د سحر سره وي

زلفي رُخسار باندې دانه وانه کړه
ماران د لعل او د گوهر سره وي

چې کله کله را په یاد شې کله
د خنجر سُوکه مې ځیگر سره وي

دغه د مینې معجزه ده شمسَ
چې یې خوندونه د پرهر سره وي



www.pukhto.net

بیا سرهٔ دچاپه وینو د آشنا لاسونه دي
له د پرده په نرهٔ کلک نیولي مالاسونه دي

څرنګې به یوځاے شي دوه مئین وښتلي زړونه
د دوو مئینو منځ کښې د دنیا لاسونه دي

کهٔ د بره پټه پټه تور پرونې کښې پټېږي
رونبانه دي پلو کښې د رڼا لاسونه دي

تهٔ سانګه یې د ګلوچې به لاره باندې زانګې
تازه نازک ګلونه ګله ستا لاسونه دي

دا شمس چې لیونے وریږي ګرځي په صحرا کښې
یه لیې دوراپه د لیلیٰ لاسونه دي



www.pukhto.net

زما په غم کله جهان پوهېږي
پوهېږم زه یا یې جانان پوهېږي

ستا په غصه کېږي چې کوم خوند دے ګله
په دې خوندونو عاشقان پوهېږي

د ګل خندا کېږي د زړا غنچې دي
په دغه بلبلان پوهېږي

زړګي دي روغ دے څکه نه پوهېږي
په درد د خوږ زړه خاوندان پوهېږي

شمل غزل کېږي چې دي کوم اثر دے
په دې د مینې لېونیان پوهېږي



www.pukhto.net

نه مې قرار شته دے نه یار شته دے نه شپه تېرېږي
نه خوب راځي نه ته راځې بس شوګیره تېرېږي

نه مې په زړه باندې وس رسي نه په تا دلبره
په بې وسۍ کښې مې د مینې دا قیصه تېرېږي

لږ په تمبو کښې خو را ووګوره ناترسه یاره
ستا په کوڅه کښې مې د مینې جنازه تېرېږي

که ته را نه شې هم به تېره شي په ما دلبره
خو بې لتا نه ډېره ګرانه سخته شپه تېرېږي

شمس په بنګلو باندې روبنګي څه اثر نه کوي
لکه شبنم د ګل په پاڼه هوره تېرېږي


www.pukhto.net

زما د حال پوښتنه څهٔ له کوې
په زړهٔ دې یو وې په خلهٔ بله کوې

څهٔ چې زهٔ نهٔ غواړمه تل دې کوې
څهٔ چې زهٔ غواړم هغه کله کوې

زهٔ چې په کومه باندې مرمه ګلې
هغه خبره څوڅو ځله کوې

زړګیه ژاړه روس ګیلې مهٔ کوه
څهٔ چې کوې په ځان په خپله کوې

چې د پوښتنې په ارمان دې مړشي
تهٔ به د شمس پوښتنه هله کوې


www.pukhto.net

راشه اشنا چې نا آشنا شو یو د بل د پاره
راځه راځه چې لږ جدا شو یو د بل د پاره

زموږ خندا ته په محفل کښې اشارې کیږي تن
ځه چې خندا کښې په ژړا شو یو د بل د پاره

مړ ته را ګوره نه به زړهٔ درته په مینه ګورم
لږ به یو بل نه بې پرواه شو یو د بل د پاره

راځه چې پټ شو د دُنیا نه د څهٔ وخت د پاره
خیر دے جانانه بیا به را شو یو د بل د پاره

شمس په مینه کښې د یار د پاره هر څهٔ کیږي
اوس مرور به بیا پخُلا شو یو د بل د پاره



www.pukhto.net

ماچې وې کړې په هغو آسرو دې اور اوسګي
تاچې وې کړې په هغو وعدو دې اور اودګي

زما په زړهٔ ېې لګولي دي د غم اورو ښه
د لرې لرې نه په تش لیدو دې اور اودګي

وفا ېغېله هم یو حُسن دے زاړ بڼه ترینه
د بې وفاؤ په ښائسته څهرو دې اور اودګي

چې د ګلانو آرزومند زړهٔ له اُزغي ورکوي
خزان ترې ښهٔ دے په هغو سپرلو دې اور اودګي

چې پکښې ذکر د جانان د خوږې مینې نهٔ وي
شمسٔ د شعر په هغو مصرعو دې اور اودګي



www.pukhto.net

تو کښېږي په چمن کښې سره ګلونه نوي نوي
چې خورمه په زړګي باندې زخمونه نوي نوي

د مینې په مذهب کښې د غم تخنبه د ایمان ده
تحفې به تل ګڼې د یار غمونه نوي نوي

زما د زړه چمن کښې تل خزان دے بې لتانه
هر څو که څي راځي تل بهارونه نوي نوي

وختونه بدل شوي دي زاړه راګونه پرېږده
مطربه راشه او چېړه سازونه نوي نوي

یو شمس دے د وفا په زړه لاره باندې دروېي
زده کړې نور و خلقو دي چالونه نوي نوي



www.pukhto.net

زړهٔ مې ډوبېږي نهٔ پوهېږم ولې
شپه نهٔ تېرېږي نهٔ پوهېږم ولې

خلقه په ما باندې د ګل د لاسه
کانړې وروېږي نهٔ پوهېږم ولې

زړهٔ مې خفه دے کهٔ هر څو سپرلے دے
ګل مراوے کېږي نهٔ پوهېږم ولې

څومره چې روښکې مې زياتېږي اشنا
زړهٔ دې سختېږي نهٔ پوهېږم ولې

زړهٔ چې هر څو کهٔ هېروم شمسه
نهٔ مې هېرېږي نهٔ پوهېږم ولې


www.pukhto.net

اوښکې او سلګۍ مې په خندا بدلې شوې
د ستا بې وفایۍ چې په وفا بدلې شوې

ستا مخ لکه سپوږمۍ چې را ښکاره شو په خندا
تیرې د جدایۍ مې په رڼا بدلې شوې

بس ښه شوه چې ته راغلې اوس به راشي خوشحالي
ښکاريږي چې د غم ورځې زما بدلې شوې

چا پېږه خوشبويۍ وه سره ګلونه خندېدل
غمې چې دې د شونډو په مسکا بدلې شوې

د شمس په شاعرۍ کښې بې لتانه مرثیې وې
اوس ټولې د غزلو په وینا بدلې شوې



www.pukhto.net

زما په زړهٔ کښې يو ارمان وو څو ارمان پاتې شو
زړهٔ مې چې څنګه پرېشان وو پرېشان پاتې شو

لا مې کتلي درته نهٔ وو چې ته لاړې ګلې
زړهٔ مې سينه کښې په لړزان وو په لړزان پاتې شو

واړه ګلونه د سپرلي شول د يو بل په نصيب
زما په برخه کښې خزان وو نو خزان پاتې شو

ښکلي آشنا ته مې د زړهٔ حالونه ټول او وئيل
څو د زړهٔ سر مې بدګمان وو بدګمان پاتې شو

شمسٌ د غم د کې نغمې سکه بلبل او وايه
ګل مرور شو ګلستان دې بيابان پاتې شو



www.pukhto.net

روس هم په زړو سترګو ستا کوڅې ته ځم راځم
د خپلو ارمانونو ادیرې ته ځم راځم

جانانه ښه خبر یمه چې حسن دې قاتل دے
د خپل زړګي د قتل نندارې ته ځم راځم

یو هېبزم چې په برخه مې یو ګوټ د میو نشته
بیا هم زهٔ وچې شونډې مېکدې ته ځم راځم

مقصد مې ستا دیدن وي که په حرم لاړه دروم
کعبې ته ځم راځم که بتکدې ته ځم راځم

اے شمس د رنځور زړګي دمه پرې باندې کېږي
دا ځکه زهٔ د ګلو تماشې ته ځم راځم



www.pukhto.net

جانانه تا چې د وفا هغه لوظونه مات کړل
ماهم په ښو اوچولي زنځيرونه مات کړل

تا چې زما د مينې قدر ګله اونه کړلو
ما هم د زړه په شيش محل کښې ستا بتونه مات کړل

نشه د مينې اوس زما د سرنه اووتله
تا چې په کاڼو د جفا زړه جامونه مات کړل

ما په خپل زړه کښې د عمرونو ارادې لرلې
چې بې وفا شوې ما د مينې محلونه مات کړل

شمس دا څومره عجيبه غونډې وختونه راغلل
ښخو يارانو د ډېر پاخه پاخه قولونه مات کړل.


www.pukhto.net

څهٔ اوکړم مسلګو د پره ګرانه شوه
سمه یارانه زمونږه ورانه شوه

شوی
سرې لمبې د اور مې په زړهٔ پورې:
دا چې بې بښتنې نن دوانه شوه

شپه کهٔ د هجران هر څو مره ګرانه وه
ستا په تصور رته آسانه شوه

هیڅ یې کښې اخلاص نشته وفا نشته
مینه د پره سپکه شوه ارزانه شوه

دا د درد او غم ورځې به تیرې شي
شمس که لیلی دې مهربانه شوه



www.pukhto.net

د پرګوم جنګونه د نصیب سره
مینه مې نصیب نهٔ شوه حبیب سره

داسې ېم دنګوچې جوړېدے نشم
نشته دے دارو مې د طبیب سره

ما به هم په دې خبره او وژنې
ته چې په خندا يې د رقیب سره

ګوره د یار زلفې بیا خورې شولې
بیا کوي سیالي نن د صلیب سره

شمس خپله مینه ورته مهٔ ښایه
مهٔ کوه دا ذکر د طبیب سره



www.pukhto.net

مینه دې زما سره څه شته که نشته دے
د ثبوت هم تا سره څه شته که نشته دے

سوزې تل مجنون په سرو لمبو کښې د هجران
خیال یې د لیلی سره څه شته که نشته دے

د پرې دې وعدې را سره کړې وې دروغ شولې
کار دې د ربښتیا سره څه شته که نشته دے

قهر او جفا دې ما تمام عمر لیدلي دي
رحم دې جفا سره څه شته که نشته دے

شمس نور تمام خلق دې قدر او عزت کوي
قدر دې آشنا سره څه شته که نشته دے



www.pukhto.net

د عشق دنیا د حادثو ډکه ده
د ګلوسانګه د ازغو ډکه ده

ستا دې په سروشونډو خندا خوره وي
زما که خوله د اسوېلو ډکه ده

خېر دے که لاس مې په ازغو وينې دي
ستا خو جولۍ د ګلوسرو ډکه ده

زما په شان به په کښې يو هم نه وي
ستا که کوڅه د ليونو ډکه ده

شمس په مينه کښې دې عمر تېر کړو
ستا شاعري د رنګينو ډکه ده



www.pukhto.net

آشنا چې ما ته رتې څواب راکوي
دا څو ثواب نهٔ دے عذاب راکوي

په زړهٔ مې لګي يو ترياق د عراق
چې يار د سرو شونډو عناب راکوي

يار چې په سترګو کښې خندېږي راته
دا څو د مينې ډک شراب راکوي

چې يې د ستا په شانې رنګ دے ګله
څکه مزه لاله ګلاب راکوي

شمس زهٔ ورته عاشقي په نکړم
د بادشاهۍ که څوک خطاب راکوي



www.pukhto.net

ما چې به کتلو تا ته تهٔ به شرمېدې
تا به نهٔ کتلو ما ته تهٔ به شرمېدې

کله به چې درغلمه ستا دیدن د پاره
مانزدې کوټې خواته تهٔ به شرمېدې

زهٔ چې به درتلمه کله ستا د کوڅې په لاره
زر به شوې د وره نه شاته - ته به شرمېدې

مینه دې به زړهٔ کښې پټه ما سره لرله
حال دې نهٔ ویلو چاته - تهٔ به شرمېدې

شمس په محبت کښې نهٔ شرمیږي زړه ورکړے
ما به نهٔ کتل حیاته - ته به شرمېدې



www.pukhto.net

دېباره راته رووايه جانان به چرته وي
زما د زړه سکون هغه درمان به چرته وي

چې يو ځلې ئې ماته را ړولي وو په ناز
هغه شرابي ښکلي چشمان به چرته وي

دا خو مې آشنا دے چې د ګل غونچې نازک دے
نه پوهېږم نور داسې خوبان به چرته وي

ژاړه اے بلبله سر وهه په دواړه لاسه
پيره د خزان ده چې ګلان به چرته وي

شمس ته چې داسې په هر چا باندې اعتبار کړې
ستا په شانې بل ساده انسان به چرته وي



www.pukhto.net

ستا دې کږې وکتلو ته کتل به ډېر ښهٔ وي
تا وېل چې د ربه شم خونهٔ را تلل به ډېر ښهٔ وي

تهٔ ولې د مسکو په خندا ما ته خندل کوې
ستا دې خندلو نه زما ژړل به ډېر ښهٔ وي

لږ را ته مسکۍ شې بيا دې مخ په بله واړوې
ستا دې سېزلو نه په اور سېزل به ډېر ښه وي

ولې د فرېب په آواز ما ته جي قربان کوې
ستا د دې ادا نه را ته سرهٔ کنځل به ډېر ښهٔ وي

شمس په زخمي زړګي دې اوليکه غزل د غم
ستا د نور غزلو نه دا غزل به ډېر ښهٔ وي



www.pukhto.net

بل مې په زړهٔ د هجر اور بلهٔ دے
رنګ زما سوے لکه سکور بلهٔ دے

څو مره چې د پروې پرې خو شحال يمه
ستا د غمونو په ما زور بلهٔ دے

په تور او سترګو دې وېشتلے يمه
راپورې ستا د مينې تور بلهٔ دے

ستا بنګلے لګيږي چې په کښې نهٔ وينمه
جام د شرابو مې نسکور بلهٔ دے

د مينې يار چې په کښې نهٔ وي شمسي
بيا دا نه پاتې کلے کور بلهٔ دے



www.pukhto.net

چې دیدن د ښکلو نهٔ وي عاشقان به چرته ځي
چې رڼا د شمعې نهٔ وي پتنګان به چرته ځي!

ستا د زلفو زولنو کښې ستا د حسن په جلوو کښې
چې بندي شي د زړهٔ سره لېونیان به چرته ځي

د ګلونو په باغچه کښې ئې نصیب د ګلو نشته
در په در خاورې په سر دي بلبلان به چرته ځي

تا چې ستړګې نن زمانه په محفل کښې بټې کړې
مېخانه چې ساقي بند کړي مېخواران به چرته ځي

اے د حسن جادوګرې د وفا خوېونه زده کړه
کني شمسؔ له خواب ورکړه په ارمان به چرته ځي


www.pukhto.net

چې جدا کېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه
نۀ پاتې کېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

تۀ خو يو ګل وې د ګلچين په لاسو ورغلې
اوس به رژېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

چې تۀ پنجره کښې چې مرغۍ په بند کښې ګېره وينم
تۀ مې يادېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

جدائي را غله لاړې دوه شوې د دولت په توره
دا نه بېلېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

شمس په دُعا کښې يادوه هغه دې هم يادوي
چې روانېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه


www.pukhto.net

چې جدا کېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه
نهٔ پاتې کېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

تهٔ خو یو ګل وې د ګلچین په لاسو ورغلې
اوس به د ژېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

چې ته پنجره کښې چې مرغۍ په بند کښې ګېره وینم
تهٔ مې یادېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

جدائۍ را غله لاړې دوه شوې د دولت په تورهٔ
دا نه بېلېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه

شمس په دُعا کښې یادوه هغه دې هم یادوي
چې روانېږې ګلې څه ورځه په مخه دې ښه


Pukhto.Net
www.pukhto.net

سرې اوښکې مې د سترګو بهېدلې ته چې تلې
د زړه نه زما غوښې شوکېدلې ته چې تلې

دواړه یو په بل پسې وه چې ته پرې خېژدولې
نغمې د محبت مې شړېدلې ته چې تلې

یو اور وو ظلم زور وو چې چاپېره خورېدلو
د سرو ګلو غوټۍ یې سوزولې ته چې تلې

خبره دې نیمګړې په ژړا کښې پاتې شوله
چړې مې په زړګي کښې ښخېدلې ته چې تلې

نیمګړے وو غزل د شمس لاسونه رپېدل
مصرعې یې په سګو کښې ماتېدلې ته چې تلې



www.pukhto.net

زړګیه ژاړه د ګلونو جنازې یاد وه
د سرو غوټیو د ځنکدن هغه لحظې یاد وه

هغه ژړا هغه سلګۍ او بنده بنده مرۍ
د تقدیرونو د ظلمونو نظارې یاد وه

د دولتونو په صلیب بندې چې ساه ورکوي
داسې بې شماره شیرینې ښائسته لیلې یاد وه

پتنګ څو ور سوزي ملبه شي د غمونو خلاصي
رو رو چې سوزي د هغې شمعې شعلې یاد وه

شمس چې زړه مې ورپسې لکه ماشوم اوژاړي
هغه مېرمنه د وفا او حوصلې یاد وه



www.pukhto.net

زلفې را خورې د لیلی دلۍ را باندې واچوه
پټ مې کړه د خلقو نه جولۍ را باندې واچوه

زۀ شهید د مینې به لا نور د خدایه غواړم څۀ
بس په خپل مزار بنارسۍ را باندې واچوه

زۀ دې په لمبو د جدایۍ کښې سوزېدلے یم
شال د خپل وصال د خوشحالۍ را باندې واچوه

زۀ دې ارماني د خمارو ملالو سترګو یم
یو نظر د مینې پخوانے را باندې واچوه

شمسؔ ورته وایه کۀ غزل را نه رنګین غواړې
رنګ د سرو لبانو د سرخۍ را باندې واچوه



www.pukhto.net

*

یا د تنستې اومه تارونه دي
یا مې د آشنا کچه لوظونه دي

یا خو د هر چا مینه غمژنه ده
یا زما نصیب کښې فریادونه دي

زلفې ئې خورې په رخسارونو دي
بل تور تیرو کښې مشالونه دي

کله زه خندا کله ژړا کوم
څومره دې خواږه تراخه یادونه دي

تل په کښې صفت د ګل اندامې کړې
شمس ملغلرې دې شعرونه دي



Pukhto.Net
www.pukhto.net

رنګ د وفا درته راوړمه څُمه!
څان له وطنه ودکومه څُمه

ډېر ښوني دي ما په زور سوزوي
چرته د زړه مې ښلومه څُمه

څان مې دا ستا په درکښې خاورې کړلو
په سر به خاورې بادومه څُمه

چرته چې مینه قتل شوې نهُ وي
داسې وطن به لټوُمه څُمه

په زړهٔ زخمونه او په خوله شعرونه
شمّل د څان سره يُې وړمه څُمه



www.pukhto.net

دلارو کوڅو خاورې چڼوم کلي په کلي
د مینې ملغلرې لټووم کلي په کلي

جانانه ستا دیدن لکه مرهم دے زما د پاره
زخمي زخمي زړګے مې ګرځووم کلي په کلي

اوروونه مې بل شوي دي د مینې په دُنیا
ایرې د ارمانونو بادووم کلي په کلي

بلبلې چې را نه پټه شوه بڼاسټ کښې د ګلونو
تپوس ئې د هغې ښکلې نه کووم کلي په کلي

اے شمسه په وفا پسې ملنګ شومه د یار
د سترګو کچکولونه ګرځووم کلي په کلي



www.pukhto.net

نن چې په محفل کښې خپل آشنا راته خندلي دي
زړهٔ کښې مې د مينې سرهٔ ګلونه تو کېدلي دي

بيا د پسرلي ورېځې ګوړې ګوړې راغللې
ستا په رُخسارونو تورې زلفې ځنګېدلي دي

راشه د زړهٔ سره چې خپل غم سره غلط کړو نن
ډېرې شپې او ورځې مې بېلتون کښې ژړولي دي

خلق مې جانان ته لباسي او بې وفا وائي
نخښې د وفا ئې ما په سترګو کښې ليدلي دي

شمسؔ هغه مسته نازنينه به پوهېږي څو
تا چې د غزل په اشارو کښې څهٔ وئيلي دي



www.pukhto.net

نه په منت او نه په شور کیږي
یاری د مال و زر په زور کیږي

بغیر لتا نه اے جانانه زما
لکه ګذران چه مے په ګور کیږي

څرته چه شمړنګ د ښنګرو واورمه زه
زما ګمان پرے ستا د کور کیږي

زه ستا د سترګو په خنجر زخمی یم
بیا مے زخمونو ته زړه نور کیږي

شمس مینه کښې دے سوزم خیر دے
علاج د اور سوی په اور کیږي



www.pukhto.net

زړګی مې رانه غواړي ستا دیدن تازه تازه
په پرخه د سپرلي وي تل چمن تازه تازه

جانانه رانه مه ځه چرته بل وطن ته مه ځه
چاپېره ستا په نوم دے ټول وطن تازه تازه

د ستا ښکلي یادونه چې په ما باندې ورېږي
زړګی تازه تازه وي هم بدن تازه تازه

راځه چې چرته کښېنو د دنیانه لرې لرې
گفتن تازه تازه کرو شنیدن تازه تازه

اے شمسؔ ورکوې چې د زړه وینې دې غزل ته
ګلونه ترې ټوکېږي ستا د فن تازه تازه


www.pukhto.net

جانانه په زړګي مې ستا يادونه راورېږي
د للمې په ګلونو بارانونه راورېږي

ناترسه ستمګره را يادېږې راته ولې
په مخ مې نن د روښکو قطارونه راورېږي

مُسکا چې را خوره شي ستا په سروشونډو جانانه
چاپېره په محفل کښې سره ګلونه راورېږي

يو ځل په مينه مينه راته وخانده له ورايه
بيا خبر دے که په ما باندې غمونه راورېږي

نن بيا دې تازه شوي دي په زړه باندې زخمونه
اے شمس چې په تا باندې شعرونه راورېږي


www.pukhto.net

